Ministry for Ethnic Communities
Te Tari Mātāwaka

# انلاین ناوړه چلند او ځورونه

## انلاین ناوړه چلند او ځورونه څه شی دی؟

ناوړه چلند او ځورونه هغه وخت دی چې څوک د انټرنېټ یا ټولنیزو رسنیو څخه د بل چا د ځورولو، ګواښلو، زورونې یا ترهګرۍ لپاره کار اخلي. دا کېدی شي د پیغامونو، پوستونو یا نورو انلاین کړنو له لارې وشي چې شخص خپه، ویریږي یا ناامني احساسوي.

**که ناوړه چلند یا ځورونه د بهرني هیواد په استازیتوب یا د دوي لپاره وشي، دا د بهرني مداخلې یوه بڼه ده.** ناوړه چلند او ځورونه کېدی شي ځورونکي او خفه کوونکي وي. مهمه ده پوه شئ چې څرنګه خوندي پاتې شئ، څه مرسته شته، او که تاسو یا ستاسو ټولنه ناوړه چلند او ځورونې سره مخ شوي وي، څه کولای شئ.

## که تاسو ناوړه چلند یا ګواښ تجربه کړی وي، څه باید وکړئ

### له هغه شخص یا حساب سره خپل تماس محدود کړئ.

**د تلیفون زنګونه او پیغامونه**

د خپل تلیفون په تنظیماتو کې د «تماس بندولو» فیچر وکاروئ. که دا کار ونه کړي، د خپل تلیفون شرکت سره اړیکه ونیسئ ترڅو شمېره بنده کړي.

**ناوړه چلند او ځورونه**

خپل د محرمیت تنظیمات تازه کړئ. نیتسیف (Netsafe) د ټولنیزو رسنیو لارښودونه وړاندې کوي چې د محرمیت په تنظیماتو کې مرسته کوي.

که داسې څه مو ترلاسه کړي وي چې د ناامنۍ، ګواښل شوي، یا ځورېدلو احساس وکړي، نو راپور ورکړئ.

### په هغه پلاتفورم/ویبپاڼه/اپ کې راپور ورکول چیرته چې پېښه شوې وي

په ویبپاڼه، اپلیکیشن یا پلاتفورم کې د راپور ورکولو فیچر وکاروئ چې پېښه پکې شوې وي. د نیتسیف ټولنیزو رسنیو لارښودونه په دې اړه مالومات لري چې دا کار څرنګه وکړئ.

## راپور ورکول نیتسیف ته

تاسو کولی شئ زیانمنونکي منځپانګه نیتسیف ته راپور کړئ: درخواست ولیږئ – نیتسیف.
نیتسیف همدارنګه تاسو ته د انلاین خوندیتوب په اړه تخصصي ملاتړ، مشوره او مرسته درکولی شي.
په help@netsafe.org.nz بریښنالیک ولیږئ یا «Netsafe» ته پیغام په 4282 ولیږئ ترڅو مرسته ترلاسه کړئ.

## پولیس ته راپور کړئ

که په خطر کې یاست، سمدلاسه د 111 شمېره ووهئ او پولیس خبر کړئ.

که بیړني حالت نه وي، تاسو کولی شئ پولیسو سره په لاندې ډول اړیکه ونیسئ:

- د 105 انلاین فورم کارول
- د هر موبایل یا ټیلفون له لارې 105 ته زنګ ووهئ، دا خدمت وړیا دی او 24 ساعته په ټول هیواد کې شتون لري.

د 105 فورمه ځینې شخصي مالومات غواړي ترڅو پولیسو ته ستاسو راپور پروسس کولو او تعقیب کې مرسته وکړي. **پولیس یوازې د قانوني موخو لپاره دا مالومات کاروي.**

## NZSIS (د نیوزیلېنډ د امنیتي استخباراتو اداره) ته راپور ورکړئ

که شک لرئ چې د بهرني هیواد لاس پکې وي، تاسو کولی شئ دا د NZSIS د خوندي انلاین فورمې له لارې راپور کړئ.

که نه غواړئ، نو اړتیا نشته خپل شخصي مالومات لکه نوم، د تلیفون شمېره یا د تماس مشخصات ورکړئ. تاسو کولی شئ فورمه په خپله ژبه هم ډکه کړئ. ټول مالومات چې تاسو ورکوئ **محرم او خوندي** ساتل کېږي.

که غواړئ په NZSIS کې له یو چا سره خبرې وکړئ، تاسو کولي شي پدې شمېره
+64 4 472 6170 یا 0800 747 224 زنګ ووهئ.

### هغه مالومات چې د راپور ورکولو پر مهال د نیتسیف، پولیسو یا NZSIS سره یې شریک کړئ

د راپور ورکولو پر مهال ګټوره ده چې څومره امکان ولري، زیات جزئیات شامل کړئ. هڅه وکړئ چې د لاندې مواردو سکرین شاټ یا کاپي وساتئ:

- هغه څه چې منځپانګه وايي یا ښيي
- د هغه چا کارونکي پروفایل یا حساب چې تاسو یې ځورولی یا ناوړه چلند کړی (لکه د هغوی کارن نوم)
- هغه نېټه او وخت چې تاسو ته ځورونه یا ناوړه چلند شوی وي
- د ویبپاڼې یا اپلیکیشن نوم چې دا پېښه پکې شوې

## د آنلاین فضا مصئونیت ویبسایټ (Keeping safe online)

د خوندي پاتې کېدلو لپاره د نورو مالوماتو لپاره د آنلاین فضا مصئونیت ویبسایټ وګورئ.